د ستراوڅواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

# Logar لوګر

مياشتنۍ خپرونه

د تا سيس کال: ۱۳۸۳ هـ. ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ رياست مياشتنۍ سياسي، علمي، ټولنيزه، ديني او فرهنګي خپرونه


## الهي ارشادات :

ټول دالله(ج) په رسۍ منګولې ولګوئ او خواره واره کيږئ مه. دالله (ج) هغه پيرزوينه درياده کړئ، چې پرتاسې يې کړي ده، تاسو يو دبل دښمنان وئ، هغه ستاسې په زړونو کې مينه واچوله او دهغه په مهربانۍ او لورينه تاسې سره وروڼه وروڼه شوئ. تاسې دېوې لـه اوره ډکـې کنـدې پرغاړه ولاړواست، الله ځنې وژغورلاست. په دغه شـان الله خپلې نښانې تاسې ته څرګندوي. ښکار ده، چې په دغو نښانو سره تاسې دخپلې ژغورنې سمه لاره مينده کړئ.

د آل عمران سوره ۱۰۳ آيت


سه شنبه د۱۳۹۸ کال د زمري د مياشتې لومړۍ، د ۲۰۱۹ عيسوي کال د جولای درويشتمه ۱ پرله پسې ګڼه (۱۰۴) لومړی کال، دربېمه ګڼه


سرليکنه ...

## دلوګر دوديزه فرهنګي مشاعره (سنځل ګل)

لوګرولايت دافغانستان دپلازمېنې کابل سويل ختيځ لورې ته په ۶۵ کيلومټرۍ کې پروت ولايت دی، چې د ستراتيژيکې نقطې له نظره ډېراهميت لري.

لوګر دافغانستان دکانونو يوسترمرکز دی، چــې د مســو کــان د دې ولايــت دمحمدآغې ولسوالۍ دعينکو په سيمه کې موقعيت لري.

پردې سربيره لوګر دجهاد پرمهال د باب الجهاد په نوم وياړ ګټلی او هــم يــې ساتلی اوکه دلوګر سيمې د ادب تاريخ ته نظرواچوو، نو د ادب په آسمان کــې هم څو ځلانده څېرو لکه بهايي جان او مولانايعقوب څرخي څخه بې برخې نه دی او د دې وياړونو درلودو ترڅنګ دهېواد دخپلواکۍ ګټوونکي؛ سپه سالار امين الله خان لوګری، سپه سالار غلام نبي خان څرخي، سپه سالارحفيظ الله خان ستانکزی او داسې نور ې څېرې په دې ولايت کې تېرې شوې دي.

د دې وياړونو ترڅنګ اوسمهال د ادب اوفرهنګ لپاره ډېرې ځوانان لاس په کــار شوي، ادبي اوفرهنګي ناستې جوړوي، چې دا دفرهنګ په ډګر کې ســتره لاســته راوړنه ده، چې بيلګه يې دسنځل ګل دوديزه مشاعره ګڼو.

ياده مشاعره د لوګرد ولسونو په تيره بيا دفرهنګيانو، اديبانو او شاعرانوله لــورې هرکال دولايت مقام او داطلاعاتواوفرهنګ رياست په ګډه همکارۍ دســنځلو د ګلانو له غوړېدو سره سمه جوړېږي.

سنځل ګل دوديزه مشاعره له نن څخه (ديارلس) کاله وړاندې دلومړي ځل لپاره دمحمدآغې ولسوالۍ د لوګرولايت د اديبانو، فرهنګيانو، شاعرانو، ليکوالانو او ولسي وګړو له خوا په ګډه ترسره شوه، چــې بلآخــره دغــه دوديــزه مشــاعره دکلونوپه تېرېدو، عامه شوه او دافغانستان په کچه يې نوم خپل کړ.

دسنځل ګل دوديزه مشاعره کې هر کــال دهېــواد د لــرو اونــږدې ولايتونــواو دلوګرولايت شاعران، اديبان، فرهنګيان اودقلم خاوندان په کې برخه اخلي، چې شاعران کولای شي، خپلې موخې او اهداف دشعر په ژبه له حکومت اويا ولس نــه لاسته راوړي.

نو ددې دوديزې مشاعرې دجوړيــدو لويــه موخــه داده، چــې دولســونو اوحکومت ترمنځ کوم واټن چې شتون ولري، هغه له منځه وړي اويووالي تــه لاره هواروي. افغانان چې خپلمنځي شخړې او اختلافونه په خپلو کــې ســره ولري، شاعران او ليکوالان کولای شي، دغو شخړو او خپلمنځيو اختلافاتو تــه دپای ټکی دشعر په نازکه اونرمه ژبه له منځه وړي شاعران او ليکــوالان لــه دواړو لورو نه هيله او غوښتنه کوي، څو په هېواد کې بدبختۍ له منځه يوســي او يووالي ته لاره پرانيزي.

د داسې پرتمينې مشاعرې لمانځنه په لوګرولايت کې اړين بريښي، لــه يــوې خوا فرهنګي ناستو ته وده ورکوي اوله بلې خوا د يووالي، امن او ورورګلوۍ پيغام لوګريانو اوهيوادوالوته په ډاګه کوي.

نو راځئ! چې په ورته فرهنګي او ادبي ناســتوکې ســره ګــډون وکــړو او د يووالي غږ پورته کړو.

ترېيا دخدای پامان

مدير

## په لوګر کې دسنځل ګل دوديزه مشاعره د (سولې ګل) ترسرليک لاندې ولمانځل شوه

پـه لـوګر ولايـت کـې د سـنځل ګـل دوديـزه ديارلسـمه مشـاعره او ميلـه دغبرګولي په ۲۸ مه دلـوګر داطلاعـاتو او فرهنګ رياست اودولايت مقام لخوا د (سولې ګل) ترسرليک لاندې ولمانځل شوه، چې پکې دلوګر والي الحـاج محمـدانورخان اسـحاقزي، د دولتـي ادارو مسـؤلينو پـه ګـډون، فرهنګيـانو، شـاعرانو، ليکوالانـو، د ادب مينوالـو، مشـرانو، ځوانـانو او ميرمنو برخه اخيستې وه.

دسنځل ګل مشاعره دقرانکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه او دمشـاعرې لـومړۍ وينـاوال دلـوګر داطلاعاتواوفرهنـګ مخکنـی رييس محمدشفيق پوپل ؤ، چې داطلاعاتواوفرهنګ وزارت د سرپرستې وزيرې حسـيني صـافي پيغـام يې ولوست. د پيغـام پـه يوڅنډه کې راغلي ؤ، چې شاعران، ليکوالان او اديبان دټولنې دردونه په نرمه ژبه تر دولتي مسؤلينو رسوي او هغوی دې ته اړ باسي، چې د ولس په دردونو دملهم پټۍ کيږدي.

همدارنګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په پيغام کې له ټولو شاعرانو او اديبانو څخه غوښتنه شوې وه، چې په خپلو شعرونو او ليکنو کې د افغـاني اصيل فرهنګ پياوړتيا او ودې ته جدي پاملرنه وکړي.

وروسته دويم ويناوال لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي دسيمه ئيـزو ارګـانونودخپلواکې اداري پيغـام ولوسـت. پـه پيغـام کې دفرهنګ څښـتنانو؛ نـه غوښـتنه شـوې وه، چـې د سـولې، امنيـت او دهېـواد پـه پرمختګ کې نه ستړي کيدونکي هڅو ته ګرند يتوب ورکړي.

والي همدا راز دمشـاعرې ګډونوالو تـه وويـل، چې پـه خپلو کې بـاور او اعتمـاد تاسـو ديـوالي او پرمختـګ لـوري تـه بيـايي، ځوانـان دې را شي؛ خپلې سـپيڅلي مبـارزې دقلم لـه لارې وکـړي، هغـه څوک چې دهېـواد پـه وړاندې ټوپک چلوي، مبارزه يې ناپاکه او څوک چې ولس او هېواد تـه کار کوي، دهغوی کړنې پاکې او ددې خاورې خدمتګاران دي.

دپيغامونو دلوستلو وروسته جوخت دشعر او شاعرۍ لړۍ پيل شوه، چې دلوګر او دنورو ولايتونو څخه راغلو ليکوالانو، شاعرانو او دادب مينـانو پـه خپلو شـعرونو کـې دهېـواد پـه اوسني وضـعيت، ملـي يـوالي تـه کـار، دمخـالفينو سـره روغـه جـوړه، پـه دولـت سـالمې نېـوکې او د نـورو برخـو موضـوعګانو تـه ځـای ورکـړی ؤ، ګډونوالو تـه واورول شـول. همدارنګـه طنـزي شعرونه هم شاعرانو ولوسـتل، چې د مشـاعرې دګډونوالو لخـوا پـه چکچکو بدرګه کيدل.




دمشاعرې په لړ کې دلوګر پوهنتون زده کړيالانو يوه تمثيلي پارچه وړاندې کړه، چې پيغـام يې دلـوګر دسړکونو رغـول، پـه هېـواد کې د سولې راتـګ تـه دخلکو هيلې، د ډاکټرانو لخوا دناروغانو درملنه او دپوهې کچه لوړيدل ؤ. په همدې ډول د بي بي آمينې دلېسې زده کوونکو لخوا هم يوه تمثيلي پارچه ننداري ته وړاندې شوه.

په همدې توګه دلـوګر نـوين خصوصي او دبي بي آمينې لېسې زده کوونکو لخوا ترانې هم ولوستل شوې. ديادولو وړ ده، چې پـه دې مشـاعره کې دلوګر ولايت ميرمنو لخوا لاسي جوړونې(لاسي صنايع ) هم ننداري ته وړاندې شوي ؤ.

پاتې دې نه وي، چې ياده مشاعره دسهار پـه لسو بجو پيل او دماسپښـين تر دوبجو دوام وکړه، چې دمشـاعرې پـه پـای کې تکړه ليکوالانـو، شـاعرانو، فرهنګپـالو، دمـدني ټولنـو ځينـو مسـؤلينو تـه دلـوګر داطلاعـاتواوفرهنـګ رياست لخوا جوړ کړي ايواردونه او ستاينليکونه ورکړل شول.

**شيرمحمدامينې ستانکزی**

## دلوګر د اطلاعاتو او فرهنګ رياست لپاره نوی رييس معرفي او رسماً يې دنده پيل کړه

دچنګابن ۱۹ مه:

دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ نوی رييس عبدالرحمن تسـل چـې د آزادې سـيالۍ لـه لارې يـاد رياسـت تـه بريـالی شـوی، رسـماً دلـوګر مرسـتيال والـي تـورن جنـرال محمـدنبي احمـدزي او د اطلاعـاتواوفرهنـګ وزارت دبشري سرچينو رييس احمدضيا انوري لخوا ددې رياسـت کـارکوونکو تـه وروپيژنـدل شـو او پـه رسمي ډول يې دنده پيل کړه.

د لوګر داطلاعـاتوا او فرهنګ رياست تـه دنـوي رييس دپيژنـدګلوي غونـډه دياد رياست پـه تـالارکې جـوړه شـوې وه، چـې دلـوګر مرسـتيال والـي تـورن جنـرال محمـد نبـي احمـدزي پـه ګـډون؛ د دولتـي ادارو مسـؤلينو، د اطلاعاتواوفرهنـګ وزارت د بشـري سـرچينو ريـيس احمدضـياء انـوري، داطلاعاتواوفرهنـګ رياسـت مخکنـی ريـيس محمدشفيق پوپل او دياد رياست کارکوونکو ګډون کړي ؤ.

غونـډه دڅومبـارکو آيتونـو پـه تـلاوت پيـل شـوه، داطلاعاتواوفرهنګ وزارت دبشـری سرچينو رييس احمدضـياء انـوري دولسمشـر محمداشـرف غنـي احمـدزي حکـم چـې عبـدالرحمن تسـل دلـوګر داطلاعاتواوفرهنګ رياست رهبري تـه ګمارل شوی دی، ګډنوالو ته ولوستل.

انوري دمخکني رييس محمدشفيق پوپل کړنې او چارې يې وستايلې او ترڅنګ يې يادونه وکړ، چې د ولسمشـر دحکم پـه اسـاس د دولتي ادارو رييسان،



چې د کـاري خدمتونو مـوده يـې لـه اوو کـالو زياتـه شوې وي، دهغوی بسـتونه اعـلان تـه ځـې او پـه ورتـه بسـتونو کې کـولای شـي، چې ځانونـه ونومـوي او د ولس په چوپړ کې ووا سي.

وروسـتـه د لوګرداطلاعاتواوفرهنګ رياست مخکنـي رييس محمدشفيق پوپـل نـوي ريـيس تـه دمبـارکۍ ترڅنــګ يادونــه وکــړه، چــې دځوانــانو او داداري همکارانو پـه مټ دې وکولای شي، دهېوادوالو لپـاره کوټلي ګامونـه واخلي. پوپـل همدارنګـه نـوي رييس تـه پـه چارو کې دلازياتو بريا هيله هم وکړه.

دوينـاو پـه لـړ کـې دلـوګر داطلاعاتواوفرهنګ نـوي رييس عبدالرحمن تسل خبرې وکړې ويې ويل، چې دخپلو مسـؤليتـونو ترڅنګ ځـوانـان، فرهنګيان، شـاعران او ليکوالان څخه به مشورې ترلاسه او په ګډه به په چارو کې مخته درومي.

تسل زياته کړه، ولس ته کړنې بايد په حقايقو ترسره شي، د حکايتونو او شکايتونو څخه موږ تېرېږو ؛ کړنې او چارې به مو دځوانانو اوفرهنګپالو په لارښوونو ترسره شي.

عبدالرحمن تسل وويل موږ به دخلکو پـه خوښـه کـار؛ و نـه کړو، بلکې د ولسونو پـه چوپړ کې غښـتلي کارونـه ترسره او ولـس تـه بـه ښـه خدمتونـه وړانـدې کـړو. همدارنګـه عبـدالرحمن تسـل ګـډونوالو تـه دکړنـو او خـدمتونو د وړاندې کولو ژمنې ورکړې، چې پـه عملي کولو کې به يې پـه ګډه دخپلو همکارانو سره يو ځای پرمخ وړي. **پاتې ۲**

**حفاظت ونگهداری محیط زیست ومنابع طبیعی ازمکلفیت ها و وجایب هرانسان است!**